# موږ به له (حېض څخه د پاکوالي نه وروسته) خړوالي او زيړوالي (خړو او زيړو اوبو) ته نه لېدل (يعنې لمونځ به مو ورسره کاوه)

له أم عطية رضي الله عنها څخه روايت دی او دا هغه مېرمن وه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره يې بيعت کړی و، فرمايي: موږ به له (حېض څخه د پاکوالي نه وروسته) خړوالي او زيړوالي (خړو او زيړو اوبو) ته نه لېدل (يعنې لمونځ به مو ورسره کاوه).

[صحيح دی] [ابو داود په دې لفظ روايت کړی او البخاري د ( بعد الطهر ) له زيادت پرته روايت کړی]

له ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به ښځو له حېض څخه د پاکوالي نه وروسته له شرمګاه نه وتونکو هغو اوبو ته پام نه کاوه چې تور رنګې يا زيړ رنګې به وې، او له امله به يې لمونځ يا روژه نه پرېښوده.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee